# د مېږي کور

سعدالله جان برق

په ډېر لږ وخت کښې د دومره شمېر خلقو د راتګ دا واقعه څۀ معمولي واقعه نۀ ده. د دومره لوئے شمېر بې سرو سامانه خلقو دپاره د ژوند هره اسانتیا پېدا کول او رسول ډېر لوئے کارؤ خو د پښتونخوا د خلقو سره دې خدائے ښۀ شي چې ډېر د زړۀ د اخلاصه ئې د دغه بې وزلو اوبې سروسامانه خلقو د لاس مدد دپاره ملا وتړله او تر خپله وسه چې څۀ د چا نه کېدے شول هغه ئې وکړل. خو په دې ضمن کښې د خلقو (امداد ورکوونکو خلقو) دا ویره بې ځایه نۀ ده چې مونږ د دغه مسافرو وروڼو سره څۀ لاس مدد کوو نو هغه دوي ته رسي هم او کۀ نۀ یا پوره پوره رسي او کۀ نۀ او د دې ویرې بنیاد د تېر وخت په ترخو تجربو دے چې اکثر په داسې موقع خودغرضه لالچي او خپل مطلبي خلق هم مېدان ته راووځي او پکښې خپل مطلبونه سر کول شروع کړي او زیاته د افسوس خبره دا ده چې په دې لړ کښې د سرکاري خلقو کردار هم څۀ ښۀ نۀ دے پاتې شوے او غېر سرکاري خلقو یا تنظیمونو هم پکښې غلط کارونه کړي دي.

او هم دغه خیال او شک په خلقو کښې یو داسې تاثر پېدا کړے دے چې ډېر په اعتماد، یقین او زړورتیا د دغه خلقو مدد دپاره راوړاندې کېږي نۀ یا پکښې حصه نۀ اخلي او یا په خلاص مټ مدد نۀ کوي.

د دې دپاره ضروري دا ده چې هم دغه خلق په خپله خپل کردار صفا کړي او د شک او شبهې دا داغونه د خپلو لمنو نه لرې کړي. د هغې دپاره صرف یوه لاره ده او هغه دا ده چې دا ځل دې داسې کردار پېش کړي چې ټولې شک و شبهې لرې شي او دا یو ډېر سخت وخت دے او یو سړے دې خپل ځان ته وګوري چې کۀ داسې حالات په ما راغلل او ماسره داسې وشول نو زما په زړۀ به څۀ تېرېږي او دا خبره څۀ فرض هم نۀ ده کۀ نن په ما ده نو سبا په تا ده، آفتونه، مصیبتونه او تکلیفونه په هر چا هر وخت راتلے شي او بیا زمونږ دا سیمه خو لږه زیاته د دغه آفتونو، مصیبتونو او تکلیفونو خوښه شوې ده. یو غم لا تلے نۀ وي چې بل راغلے وي، زلزلې آفتونه، سېلابونه، جنګونه چې څۀ دي نو هغه هم په دې سیمه نازلېږي.

دلته یوه ډېره "غلط العام" خبره هم صفا کول غواړي. په عامه توګه زمونږ په مجلسونو کښې چې کله هم د داسې اسماني یا انساني تکلیفونو ذکر کېږي نو یوه ډېره عامه خبره دا کېږي چې دا ټول زمونږ عملونه دي یا دا د عملونو سزا ده دا د خدائے درانۀ دي وغېره وغېره.

خو دا خبره بېخي غلطه بلکې د رب جلیل په شان کښې د غلط ګمانۍ مقام لري. هغه لوئے ذات د انساني کمزورو نه ډېر اوچت دے. د انسانانو په بدو عملونو غصه کېدل، آفت نازول او قهر ورول د هغۀ د شان سره نۀ ښائي دا خاصه د انسان ده چې غصه کېږي هم په قهر کېږي هم او د خپلې غصې د لاسه چاته نقصان هم ورکوي.

هغه دومره لوئے کبریا او د دې قسم تصور نه بالا و برتر ذات دے چې د چا د عمل په بنیاد کارونه نۀ کوي، کافرو ته هم برابر رزق ورکوي، بارانونه پرې کوي او د ژوند ټول نعمتونه ورکوي او ښۀ ډېر

ئې ورکوي، بغېر د څۀ فرق او تخصيص نه. انسان او د انسان عمل نۀ خو د هغۀ څۀ کولے شي نۀ ئې په خدايی څۀ اثر اچولے شي او نۀ ئې په رويه کښې څۀ فرق پېدا کولے شي. زمونږ په عام ژوند کښې مونږ هم چې څوک ناپوهه ماشوم څۀ ورانه خبره يا وران کار وکړي نو لوئے ورته په خندا شي او هېڅ ورته وئۀ وائي، د غسې د لېونو ناپوهو او وړو خلقو په حرکتونو هم عام او هوښيار سړي له قهر نۀ ورځي او نۀ ورله سزا ورکوي او بيا د الله تعالی ګرفت نه په يو وخت او يو ځائے کښې هم څوک خلاص نۀ دے چې وزغلي وزغلي نو هم چرته نۀ شي تلے چې ځي ځي نو هم هغۀ له به راځي نو هغه پرې داسې په وړو وړو بد عملو او شرارتونو آفتونه ولې نازل کړي کۀ داسې وے نو د دنيا د لويو لويو ښارونو تصور وکړئ چې بدعملی هلته ډېرې دي کۀ دلته په دې شاړو شدياړو کښې اوسېدونکو خلقو کښې ډېرې دي پکار خو دا ده چې هغه ښارونه ئې اوس وختي فنا کړي وے خو دا د هغه د "رب" د صفت سره نۀ ښائي.

قهر، غصه، انتقام، سزا وغېره انساني کمزوري ده او هغه ترې ډېر بالا و برتر دے. دا هر څۀ چې کېږي دا د خپل يو نظام لاندې کېږي. يوه خودکاره کارخانه چې هغۀ د "کُن" په بټن روانه کړې ده، اوس دا د هرې پرزې مشين او ګيراری خپل کار دے چې څنګه چلېږي او چې څنګه چلېږي نو هغسې نتيجې به ورکوي. د زهرو ګولی، په بم، توره وغېره کښې هغۀ دا صفت اېښے دے چې د خپل خاصيت مطابق کار به کوي، کۀ يو سړے زهر وخوري نو زهر به يقيناً هغه وژني، دغه رنګ د هر يو څيز خپل خپل خاصيت او دائره کار دے.

دا په مونږه چې هم څۀ نازلېږي، د هغه قانون مطابق نازلېږي چې اوس مونږ په داسې علاقه کښې اوسېږو چې هلته د زمکې پلېټونه حرکت کوي، نو زلزله به خامخا راځي، کۀ يو قام د ابادی فکر او غم نۀ کوي نو خامخا به د لوړې سره مخامخ کېږي چې د درياب په غاړه اوسېږي نو سېلاب به پرې خامخا رانازلېږي، مونږ هم د زمانو راسې په غلطو لارو چارو سر يو نۀ خپل ځان پېژنو، نۀ دښمن، نۀ په خپله فائده پوهېږو ،نۀ په نقصان نو ظاهره ده چې عمل د لارې مل دے. هم هغه څۀ به کېږي څۀ چې مونږ ځان له جوړ کړي دي خو خامخا د خپلو غلطو کارونو دپاره په خدائے تور پورې کول نۀ دي پکار. اوس دا ډېر لوئے بحث دے چې هغه څۀ غلطی مونږ کړې دي او کوو ئې کوم چې مونږ د داسې افتونو سره مخامخ کوي. دلته صرف دا خبره کول دي چې دا څۀ دي دا د خدائے "درانۀ" نۀ دي، د انساني غلطيو نتيجه ده. "از ماست که بر ماست" څۀ چې دي هغه زما د خپله لاسه دي. عام خلق خو ترې نه خبر نۀ دي خو خاصو خلقو ته ښه پته ده چې د دې افتونو شاته څۀ دي او ولې دي.

مطلب د ټولې خبرې دا دے چې دا ورځ په هر چا هر وخت په هر شکل کښې راتلے شي او کۀ مونږ نن دغه خلقو سره څۀ وکړو هغه مونږ سره هم کېدے شي نو دا خيال هر وخت کول پکار دي چې کۀ زۀ نن وکړم نو سبا ما سره هم دا کېدے شي، کۀ اخلاص، مينه او ښېګړه مې وکړه نو ما سره به اخلاص، مينه او ښېګړه کېږي او کۀ بې ايماني، درغلي او خودغرضي مې وکړه نو ما سره به هم داسې کېږي، دا حقيقت منل پکار دي چې مونږ مېږي يُو او د مېږي کور د غم نه چرې هم خالي نۀ وي. ▪